# د دنیا اولنے او لرغونے داستان

محمودایاز


## Abstract

This paper elaborates worlds first ever known fiction, the epic of Gilgamesh (2500BC) which reflects the Sumerian (Babylonian) civilization with its entirety.
The writer has also found nexus of the primitive and modern civilizations. Through the textual analysis of this epic, various milestones are identified which clearly indicate the process of construction of human civilization through various stages.
The paper also connects the Sumerian civilization and the civilization of Harpa and Mohinjodaro. A discovery in which a caricature of a hero holding tigers in his hands is found which makes connection between the two civilizations. The personslity of Gilgamesh is also unpacked through this paper which indicates his wisdom and extraordinary power to hold tigers in his hands.
This historical epic also carries signs of the migration of some pashtoon tribes to Babylon, the recent Baghdad. A comprehensive account of the fiction Gilgamesh is also carried out by citing the twelve clay tablets besides a summary at the end.
Bablian Sumerian of harpa and mohingodaro.


که چیرې مونږ په رښتیا د داستان کوټلي مطالعه او مشاهده کول غواړو، نو د دې دپاره، زما په شخصي فکر او نظر د تېرو هېرو تهذیبونو ژوره مطالعه بېخي ډېره ضروري ده. ولې چې دا خبره زبا ته رسېدلې ده چې ادبي او تنقیدي نظریات د افلاطون څخه لاډېر پخوا په تحریري صورت کښې وړاندې شوي دي. نو ځکه هغه وحشي او نیم مهذب معاشرت او زاړه او لرغوني روایات او اقدار مونږ بېخي نه شو نظر انداز کولے، د کومو نیم مهذبو ټولنو څخه چې د دنیا د هرې ټولنې ادب لرہ ډېر خام مواد تر لاسه کړے دے. دغو تهذیبونو په خصوصي توګه د شاعري، فن، فلسفې، داستان او ډرامې په اړه یو اساسي او بنیادي رول لوبولے دے. دا حقیقت به هم منو چې د مهذب معاشرت او سیاست بنسټ هم دغو لرغونو تهذیبونو ایښے دے. نو ځکه د ژوند د هر میدان د بنیادي تیرې

اساسي حوالې هم دغه اسطورې دي. دا تریخ حقیقت لم سم منل په کار دے چې:
"هره ارسطوره (Mytholgy) هغه که له بابلي تهذیب سره اړه لري که له یوناني، مصري، هندي یا د یو بل قدیم او لرغوني تهذیب سره اړیکې لري. له شکه ماورا دغه هره اسطوره یوه ځانګړې کلاسیکي ادبي سرمایه ده. شاید دغه سوب دے چې مونږ د اساطیري شواهدو او محرکاتو څخه مخ نه شو اړولے. ولې چې پې، تهامس د اساطیري ادب نومورے استاد هم د نورو یو شمېر اساطیري ماهرینو له خیال سره ښېخي متفق ښکاري چې د فن، مذهب او فلسفې خامه بنه او ابتدائي انځور یا رنګ په اسطور (متهـ) کښې لیدل کېدے شي". (1)

ګوا داستانونه د وحشي او نیم مهذبو ذهنونو اوچتې او بې بها پېرزوئیني دي، که دلته ګرسره دا وواېو چې داستان د هرې ژبې د ادب اولنے صنف دے نو دا به مبالغه نه وي. دا پوښتنه په خپل ځائ د بلا اهیمت وړ ده چې د زړو او لرغونو روایاتو او عقایدو خدایي په بشري حیات کښې تر کومو پخوانیو دورو پورې قایمه او دایمه پاته شوې ده؟.

د دې پوښتنې کماحقه ځواب نه خو د وخت پیاوړي محققین مونږ ته وئیلے شي او نۀ د زماني نوموړي مؤرخین، خو په دغه اساس چې محققین، تاریخ پوهان او د بشري علومو استاذان کوم شوهد، حقائق او معلومات د دغو اسطوري دورو په اړه مونږ ته په لاس راکوي، هغه هم تر غنیمت کمه علمي او ادبي سرمایه نه ده. د داسې شواهدو په اساس ځینې قوي دلایل او اشارې مونږ ته په لاس راځي چې د بنیادم ذهن په پټو سترګو د دې تریخ حقیقت اثبات په لوئ زړۀ کولے شي چې د بشر ماضي په علمي او ادبي لحاظ ځومره غني او شتمنه ده.

داستان ګوئي او بنیادم د عمر په لحاظ ښېخي د یوۀ بل همځولي ښکاري ولې چې داستان طرازي دغومره قدیمه ده څومره قدیمه، پخوانۍ او لرغونې چې د بنیادم خپله قیصه ده. د ذکر شوي فرضي دعوې د اثبات لپاره دلته د ژونګ دغه قول نقل کول را ته د بلا غور او فکر وړ ښکاري لکه هغه چې وایي:

"زمونږ عقل د اساطیر نه را زېږېدلے دے"(2)

د دې معنا دا ده چې د بنیادم د عقل او شعور د سفر اولني ګامونه مونږ په دغو تېرو هېرو تهذیبونو کښې په ګوته کولے شو، ولې چې په اساطیري یا دیومالائي ژوند او ادب کښې د بنیادم د عقلي او شعوري اظهار وړومبنۍ

نمـونې مـونږ تـه هـم دلتـه پـه لاس راځـي او هـم دغـه نمـونې پـه اصـل کښـې د هغـو لرغونـو او قـديمو تهـذيبونو د شـعور نمائينـدګي او ترجمـاني کـوي او د هغـۀ زمـان د بنيـادم د خـود شناسـۍ غمـازي هـم. پـه دغـه لرغـوني داسـتاني ادب کښـې د حيـرت او تجســس داســې حيرانــوونکي کردارونــه مېشــته دي چــې د نــن بنيــادم يــې داســې احساسـوي لکـه هغـه چې پـه اسـاطيري دور کښـې پـه رښتيا هـم دغسـې خبـرې کـړي او هـم دغسـې کردارونـه يـې لوبـولي دي. او لـه داسـې حيرانوونکيـو پېښـو او لـه تجسـس څخـه لـه ډکـو جهـانونو سـره مخـامخ شـوې دي. لـه دې حقيقـت څخـه بېخـي انکـار نـه شـي کېـدے چـې دغـه لرغـوني داسـتانونه مـونږ تـه د تېـرو هېـرو تهـذيبونو د سـفر تسلسـل حـال وايـي. پـه دې کښـې مـونږ د تـوهم پرسـتۍ، نـرے نـرے لـوګے ليـدلے شـو او د خپلـو اسـلافو سـره د مينـې او عقيـدت ړانـدۀ جـذبات هـم. پـه دې کښـې د ويـرې او خـوف مرئـي قوتونـه هـم ښـکاري او د ديويـانو او ديوتاګـانو يـو ناتمـام جـمِ غفيـر هـم. او لـه دې سـره سـره پـه دغـو داسـتانونو کښـې بـلاوې، پېريـان، شـيطانان او وېرووونکـې سـائې هـم ليـدلے شـو چـې د ويـرې او خـوف منحـوس علامتونـه دي. شـايد ځکـه دغـه داسـتاني ادبيـات مـونږ پـه بـلا شـوق او ذوق وايـو. ولـې چـې د تـوهم پرسـتۍ، خـوف او ويـرې داسـې نـادر احساسـات او جـذبات نـن هـم د انسـان پـه ذات کښـې هـم هغسـې مېشـته دي لکـه د لرغـوني بنيـادم پـه ذهـن او فکـر بانـدې چـې خوارۀ وارۀ وو. آرنلډ، ټائن، بي ډېر ښه وئيلي دي چې:

"تـاريخ د علـم الاصـنام څخـه را ټوکېـدلے دے، کلـه چـې مـونږ پـه داسـتان کښـې تـاريخ لټـوو. نـو پـه کښـې د قيصـې د دېـوي تبسـم لـه ورايـه وينـو. او کلـه چـې مـونږ د قيصـه ګـوئي پـه حسـن او ښـکلا کښـې ورکېـدل غـواړو نـو د تـاريخ پـانړې مـو و مـخ تـه پرتې وې".(3)

د بشـري تـاريخ هغـه پـاڼې هـم د ډېـر غـور وړ دي بلکـې د وئيلـو وړ دي چـې رېښـې يـې د تېـرو هېـرو تهـذيبونو لـه ژونـد او ادب سـره پيوسـتې دي. ولـې چـې دا لرغـوني حقـائق او شـواهد، خرافـات او فرضـي خيـالات او تصـورات زمـونږ د حـال رېښـې زمـونږ لـه تېـرې هېـرې ماضـي سـره جـوړوي. او لـه دې لارې هـم مـونږ د بشـر د مطالعې په اړه ډېر تلخ حقائق او شواهد تر لاسه کولے شو.

د جلجـامش د داسـتان انتخـاب مـا ځلـه وکـړ؟ شـايد پـه دې سـوب چـې دا د نـړۍ تـر ټولـو قـديم، پخـوانے او اولـنے بشـري داسـتان دے. بايـد چـې ستاسـې پـه علـم کښـې

دا خبره هم وي. چې جل جامش (گل گامش) گل گمېش او گل گېمش څلور واړه د یوه شخصیت نومونه دي. دا خبره تر لمر روښانه ده چې په حماسي شاهکار داستانونو کښې که نن اېلیډ، اوډیسې، اینید، مها بهارت، رامائن شاهنامهٔ فردوسي او ځینې نور حماسي داستانونه د حماسي ادب عظیمې فن پارې بلل کیږي، نو په دغو حماسي داستانونو کښې یو حماسي داستان د جل جامش داستان هم دے. دغه منظوم حماسي داستان ځکه د زیاتې یادونې وړ دے. ولې چې دا د دنیا اولنے لرغونے داستان دے. د بابلي تهذیب څخه په میراث یا ترکه کښې چې کوم دوه منظوم داستانونه په گوته شوي یا پیدا شوي دي، لکه د گل گامش داستان او انوما الش، خو په دغو دواړو داستانونو کښې زیات اهمیت او اولیت د جل جامش داستان ته ځکه حاصل شوے دے چې دا د نړیوال ادب اولنۍ ادبي پېرزوئینه ده یا په تحریري بڼه کښې دا د لیك او تخلیق اولنۍ نمونه ده.

سوال دا پیدا کیږي چې دغه اولنے لرغونے او زوړ داستان مونږ څۀ رنگه موند؟ دا ځانله یو زړۀ راکښونکے او حیرانوونکے داستان دے. د دې عالمگیر او همه گیر ادبي داستان په لټولو یا را برسېره کولو کښې د فرانسوي محقق بوټا، د انگلیسي پلټونکي آسټن هنري لایارډ، سر هنري رالنسن، مسټر لوفټس، جارج سمستهـ، مسټر هرمزد رسام، دکتور اې، بچ، اېل، ډبلیو کنگ، مسټر آرتهامپسن او د نوموړي معیشت دان سر نیو نارډولي نومونه د یادونې وړ دي. خو په ذکر شویو محققینو کښې لایارډ، سر نیو نارډولې او رالنسن د ډېرې ستائینې وړ دي ولې چې لایارډ دوه لرغوني ښارونه لکه نېنوا او نمرود یاؤت، دریافت یا رابرسېره کړل. او ورسره ورسره یې د اشوریه د باچا اشور بني پال نوموړے کتابتون یې را برسېر کړ. دا د یادونې وړ هغه کتابتون دے چې په کښې یو شمېر نادر کتابونه او بېخي د ارزښت وړ خطي پاړکیان او نوشتې موجودې وې. د دې حقیقت اثبات برټش میوزیم خپله کوي ولې چې نن هم په دغه میوزیم کښې د ذکر شوي کتابتون یو شمېر اثار او احوال موجود دي. د تحقیق د عالمانو او پوهانو په قول غالباً د دغو کتابو، نوشتو او پاړکیانو تر 25 زره څخه زیاتې تختیانې په دې میوزیم کښې موجودې دي. په هم دغو تختیانو د جلجامش او د انوما الش دغه ارزښتناك داستانونه رقم شوي دي. د تحقیقي شواهدو له رویه لیونارډولې د طوفانِ نوح اثري شهادت په گوته کړ او د بغداد

نومـوړي پوليټيکـل ايجنـټ هنـري رالنسـن د بغـداد پـه رېذيډنسـي کښـې ورتـه خپلـې ګـوډې مـاتې کـړې. ورتـه يـو مـخ کښېناسـت او د دغـو تختيـانو پـه وئېلـو او سـنجولو ئې پيل وکړ"(4)

د دغـه تـريخ حقيقـت لـيکلې شـهادت يـو انګرېـزي دائـرة المعـارف کښـې چـې جان کليوټ او جان ګرانټ مرتب کړے او داسې نقل شوے دے.

"The Epic in oral tradition from the mid-25th century B.C was probably first recorded on cley tablets during the reign of king Nammu of ur around 2100 BC. Other stories were added, until brought together possibly by the priest sin-leqe-unnini, credited as the scribe of the stone tablets found in the library of the Assyrian king Assurbanipal (668-626 BC). These were translated by Henry Rawlinson (1810-1895) and George Smith (1840-1876). The first full English translation was the Epic of Gilgamesh (1917 US) by Stephon Langdon". (5).

کـه يـوې خـوا تـه د دې نومـوړي منظـوم حماسـي داسـتان پـه اول ځـل پـه انګليسـي ژبـه د ژبـاړلو افتخـار او اعـزاز و نومـوړي سـټېفن لنګـډون تـه حاصـل شـوے نـو بلـې خـوا تـه د دغـې حماسې پـه اردو ژبـه کښـې د ژبـاړلو شـرف د معتبـر ليکـوال ابـن حنيـف پـه برخـه شـوے دے. او اردو ادب يـې پـه اول ځـل لـه دې لرغـوني او کلاسيک داسـتان سـره اشـنا کـړے. او پښـتو ادب لـه زۀ دغـه داسـتاني حقـائق او شـواهد پـه دغـه نيـت پېـرزو کـوم چـې زمـونږ پښـتو ژبـه او ادب هـم پـه داسـې نـوادرو او نايـابو ادبـي ليکنـو او پېرزوئينـو بانـدې مشـرف او غنـي شـي. ولـې خصوصـاً د اسـاطيري ادبيـاتو پـه اړه زمـونږ ادب بېخـي لـه غرابـت سـره مخـامخ دے. د جلجـامش د دې اولنـي داسـتان او داسـتاني بحث و مبـاحثې پـه تـرڅ کښـې زۀ غـواړم چـې د لرغونـو تهـذيبونو پـه مناسبت دلتـه ځينـې حقـائق او شـواهد را نقـل کـړم چـې دا حقيقـت هـم پـه لوسـتونکيو بانـدې عيـان شـي چـې پـه نـړۍ کښـې تـر ټولـو زوړ، قديم او لرغونے تهذيب کوم يو دے؟.

هسـې خـو د مـذاهبِ عـالم، بشـريت او د اسـطور د اسـتاذانو او عالمـانو پـه زړو او لرغونـو تهـذيبونو بانـدې د خپلـو کتـابونو، اثـارو او احوالـو لـه لارې ډېـر کـوټلي علمـي مباحـث زمـونږ مخـې تـه ايښـي دي. د ځينـو لرغونـو تهـذيبونو او

مـذهبي عقائـدو پـه حقلـه. دغـه پوهـان او اسـتاذان دا دعـوه لـري چې مصـري، يونـاني او هنـدي تهذيبونـه ډېـر زاړۀ تهذيبونـه دي خـو د زيـاترو محقيقينـو اتفـاق پـه دې خبـره بانـدې شـوے دے چـې مصـري تهـذيب د خپلـو اسـاطيري حقـائقو، اثـارو او شـواهدو لـه رويـه د دنيـا تـر ټولـو زوړ او لرغـونے تهـذيب دے. خـو کلـه چـې د گـل گـامش داسـتان (چـې د خـاورو پـر تختيـانو بانـدې ليکـل شـوے ؤ) را برسـېره شـو نـو د بابـل او نېنـوا (عـراق) تهـذيب د دنيـا تـر همـه تهـذيبونو لرغـونے تهـذيب وگرځېـد. وئېـل کيـږي چـې د پخـواني عـراق تـر ټولـو پخـواني اوسـېدونکي سـمېريان وو. دا حقيقـت هـم د منلـو وړ دے چـې پـه دې لرغـونې سـيمه کښـې د **7000** ق م د زمـانې کورونـه يـاؤت شـوي دي. پـه هغـه زمانـه کښـې بابـل (بـاب ايـل) تـورے "د خـدائ دروازه" په معنا او مفهوم غلط العام شوی ؤ".(**6**)

د مـزې خبـره دا ده چـې د دغـو لرغونـو تهـذيبونو د دقيقـې او کـوټلې مطـالعې او مشـاهدې وروسـته مـونږ تـه ځينـې داسـې حقـائق هـم پـه لاس راځـي چـې پکښـې د پښـتني تهـذيب لرغـوني، اثـار، شـواهد او حقـائق پکښـې لـه ورايـه پـه غورځنـګ ښـکاري. د علـي عبـاس جـلال پـورې پـه قـول چـې: "د قـديمو سـمېريانو د نسـلي اثـارو تـلاش او لټـون د شـرق پـه لـوري د افغانسـتان، بلوچسـتان (جنوبي پښـتونخوا) سـره سـره د سندهـ د نـاوې پـه اوسـېدونکيو کښـې زيـات امکـان لـري. او موصـوف دا دعـوه هـم لـري چـې د هـړ پـه اومـو هنجـو داړو د خينـدلو پـه وخـت چـې د کـوم ترقـي يافتـه تمـدن اثـار را برسـېره شـوي او چـې کـوم شـيان را ايسـتل شـوي دي. پـه هغـو کښـې هغـه څلـور کونجـه مهرونـو سـره مماثلـت لـري کـوم چې پـه سـمېريه کښـې يـاوت شوې يا را برسېره شوي دي".(**7**)

دلتـه دا گمـان کـول خـارج از امکـان نـه دے چـې کېـدے شـي چـې د پښـتنو ځينـې ټپـو لـه دغـو سـيمو څخـه د عـراق د لرغـوني تهـذيب پـه لـور هجـرت کـړے وي. ابـن حنيـف هـم دا خبـره پـه تاکيـد سـره پـه خپلـو ليکنـو کښـې کـوي چـې: "سـمېريان عـراق تـه چرتـه د بلـې سيمې نـه راغلـي دي او دا هـم وئېـل کيـږي چـې دغـه سـمېريان چرتـه د غرئيځـو علاقـو نـه دلتـه را مهـاجر شـوي دي. ولـې چـې دوئ خپـل مندرونـه پـه لاسـئ غونـډيانو بانـدې جـوړ کـړي دي".(**8**) کېـدے شـي چـې دا د پښـتنو لـه ټپـو څخـه يـوه ټپـه وي. زياتـه حيرانـوونکې او غـورِ طلـب نکتـه زمـا پـه شخصـي فکـر دا ده چـې د سندهـ د نـاوې پـه يـاؤت شـويو اثـارو کښـې يـو داسـې مهـر هـم يـاؤت شـوے

دے چې په کوم باندې د یوه قهرمان عکس جوړ شوے او دغه قهرمان یا زورور دوه زمریان پخپلو متهو کښې نیولي دي. او دغه قدیمه او لرغونې شبهه د عراقي جلجامش سره ښېخې مماثلت لري. او د موصوف قهرمان په دې داستان کښې دا ذکر موجود دے چې هغه دومره زورور ؤ چې په یوۀ وخت به یې دوه زمریان پخپلو متهو کښې قابو ساتلے شو. اوس دلته پوښتنه دا پیدا کیږي چې په عراق (بابلي) او سندهي تهذیبونو کښې کوم تهذیب زیات لرغونے او قدیم دے؟ او دا سوال هم چې اصل کښې گامش د کوم لرغوني تهذیب کېدے شي؟

"جلجامش د سومیري ژبې توره دے، په سر کښې په عارضي توگه د جلجامش نوم "ازدوبار" وئېل شوے ؤ. خوتې، جې، پنچز چې کومه تختۍ موندلې وه نو په هغې باندې دا نوم جلجامش لیکل شوے ؤ".(**9**)

د دې داستان د شپږمې تختۍ له رویه چې یرك یا روك (چې په بائیبل کښې اریخ ورته وئېل شوي او نن سبا یې نوم ورقه دے، بابلیانو به ورته یرك سپورے گوا قلعه بند یرك وایه) د دې نوموړي قهرمان پلارنے ټاټوبے نه ؤ، بلکې په اصل کښې "مراد" اوسېدونکے ؤ. چرته چې به خلکو د لمر عبادت کاوۀ. او که چرته د بروسیئیس او ایلیئین روایات و منل شي نو بیا دغه جلجامش "جلج موس" دے. کوم چې د بابل حکمران ؤ. او یرك یې د توري په زور نیولے ؤ. زیات عالمان او پوهان وایي چې: "موصوف قهرمان د کلب باچا ؤ. (د کلب نه مراد هم دغه یرك دے) د جلجامش په قول یا وینا دا ثابتیږي چې دے د لوګل بندا زوے ؤ او هغه خپله د بابلي تهذیب د موندلیو تختیو له رویه **1200** سوه کاله دلته حکمران پاته شوے دے. د جلجامش مور د بوي وه او خپله دوې برخې دیوتا او یوه برخه بنیادم ؤ. سومیري روایات دا هم وایي چې دا د یرك ښار اولنے شاهي خاندان ؤ. او په دې خاندان کښې دولس (**12**) باچهان تېر شوي او دوه زره کاله یې پر دغه سیمه خپله حکمراني کړې ده".(**10**)

په هغه زمانه کښې یرك ښار د مذهب او علم یو منل شوے مرکز یادېدلے. وئېل کیږي چې د جلجامش په حکم په دې ښار باندې شا او خوا دېوال را گرځول شوے ؤ. د جلجامش په داستان د مزید بحث کولو څخه مخکښې باید چې د موصوف د شخصیت یوه اجمالي خاکه دلته وړاندې کړو. جلجامش یو داسې قهرمان او حکمران ؤ چې عجبه او حیرانوونکي خصلتونه او اوصاف یې درلود.

یو چنار قامت ځوان ؤ، د ښایست په اړه د ځانګړي خدوخال خاوند، د زمریانو او د ځناورو د ښکار خواهي، یو لاثاني پالوان، یو تکړه او پیاوړے سرلښکر، د طاقت او قوت یو ژوندے علامت چې د لرګي بلیان به ورته هیڅ ښکار ېدل، په شخړو او جګړو کښې منل شوے، مثالي غېرباز، پیاوړے توررزن، له جلال او دبدبې څخه یو ډك شخصیت، یو دېوتا قامت بنیادم، د اسرار او رموزو یو بې مثاله پوهان او عالم او له دې سره سره یو ځانګړے سالار او د یو نوموړي باچا چشم و چراغ، او دا شخصیت د دې برخې دېوتا او یوه برخه بنیادم ؤ، د رزم او بزم، د حرب و ضرب د دې داستاني روایت له رویه چې کوم شان او شوکت، جلال او کمال سره سره چې کوم عزت او وقار د عراق د یرك ریاست ؤ. دغو درې واړو قهرمانانو ته حاصل شوے. لکه ان میکر، لوګل باند او ګل ګامش، داسې عزت او وقار د عراق په بل ریاست کښې چرته و بل هیرو یا قهرمان ته نه دے حاصل شوے خو په دې حکمرانانو کښې زیات عزت او وقار بیا هم و جل جامش ته حاصل شوے دے.

د ان میکر او لوګل باندا داستانونه که څۀ هم د لرغوني ادب اهمې پېرزوئینې دي خو د رتبې په لحاظ هغه قدر و قیمت او ارزښت نه لري کومه رتبه او ادبي مقام چې د ګل ګامش داستان ته حاصل دے. د دې منظومې حماسې د مطالعې نه مخکښې لاندینی ذکر شوې نکتې په پام کښې نیول په کار دي.

(1) "د قدیم دورو د فني او ادبي شاهکارونو په شان د دې عظیمې حماسې د مصنف نوم لاتا حال نه دے معلوم شوے. خو دومره معلومات د دې منظوم داستان په اړه ضرور تر مونږه پورې را رسېدلي دي. د ګل ګامش د کارنامو په اړه چې کوم بېلا بېل نظمونه په ګوته شوي دي د موصوف قهرمان د مرګ اووۀ، اتۀ کاله پس لیکل شوي دي".(11)

(2) دغه قهرمان شخصیت په اتمه پېړۍ ق م کښې د یرك ریاست باچا ؤ.

(3) "د ګل ګامش د داستان د نسخې کامله حواله او نمونه هغه بلل کیږي کومه چې د اشور حکمران اشور بني پال په فرمان د نینوا د شاهي کتابتون دپاره مرتب کړل شوې وه". (12)

(4) دغه نسخه په مېخي یا پېکاني رسم الخط د خاورو په پخو تختیانو یا الواحو باندې په اکادي ژبه لیکل شوې ده.

(5) دغه حماسي داستان د لرغونتوب په اړه د ادبي تاريخ سرفهرست شاهکار بلل کيږي.

(6) د سندهـ په ناوه کښې په ياؤت شوي اثارو کښې هغه مهر ببخي د هېرولو وړ نه دے په کوم باندې چې د قهرمان جل جامش شبهه يا بت جوړ شوے دے.

(7) د تحقيقي پلټنو له رويه د مېخي يا پيکاني رسم الخط چې کومې نمونې مونږ ته په لاس راغلي دي، دا د جنوبي عراق په مشهورو ښارو انوګ (اکادي، اژوك، بائيبل، اريخ) کښې پيدا شوې دي. هم دغه د نړۍ زياتې لرغونې او قديمې نوشتې بلل شوې دي.

(8) عراق چې په تاريخي لحاظ په کومو درو لويو برخو کښې تقسيم شوے دے. هغه لکه شمالي عراق، وسطي عراق او جنوبي عراق. شمالي عراق ته اشور، وسطي عراق ته اکاد او جنوبي عراق ته سومېر وئيل کيږي.

(9) سوميري ځـۀ مشخص قام نه دے. خو سوميري ژبه ويونکيو ته سمېريان وئيل کيږي. خو د دنيا تر ټولو پخوانۍ تپه بلل کيږي. د نوي او جديد تحقيقي معلوماتو له رويه د دې تهذيب ابتدا له پنځۀ يا پنځنيم زره ق م د زمانې څخه منل شوې ده.

(10) د دغو لرغونو کتبو او نوشتو د وئيلو اعزاز يا شرف د اوليت په اړه و ستر رالنسن (بغداد) ته حاصل دے. دا هم هغه شخصيت دے چې د بې ستون کتبه ئې د دغو کتبو او نوشتو څخه ډېره مخکښې وئيلې وه.

(11) د اشور بنې پال د کتابتون نه په پرته هم د دې حماسې تختيانې په نورو سيمو کښې پيدا شوې دي. د امريکائي محقق جان پنټ په مشرۍ کښې چې په قديم نېپور کښې مځکه وکتل شوه، نو وئيل کيږي چې 40000 زره تختيانې دلته هم ياؤتې شوي دي. او دلته د ګل ګامش د داستان دوې تختيانې پيدا شوې دي.

(12) د سومېريانو په حقله وئيل کيږي چې دا قام سامي النسل ؤ خو ځينې محقيقين يې له منګول نسل سره تړي.

(13) دا خبره ياد ساتل په کار ده چې د ګل ګامش په داستان کښې د هغۀ د مرګ په اړه هيڅ نۀ دي ليکل شوي، د عراق د بابلي تهذيب او زمونږ د سيمې د لرغونو تهذيبونو د اثارو له يو بل سره مماثلت د محقيقينو څخه د نورې پلټنې

غوښتنه کوي. کېدے شي چې دا رنګه ځينې نور اهم شواهد او حقائق مونږ ته په لاس راشي. ذکر شوې نکتې ما ځکه دلته په خپلې دې تحقيقي مقالې کښې نقل کړې چې د دې لرغوني رزميه داستان مطالعه د لوستونکيو لپاره نوره هم اسانه شي اوس بايد چې د ګل ګامش هغه دولس تختياني هم دلته په اختصار او جامعيت سره نقل کړو په کومو باندې چې د دغه قهرمان نومورې داستان رقم شوے دے. ابن حنيف دغه تختياني باالترتيب په خپل تحقيقي کاوش کښې په داسې صورت زمونږ مخې ته ايښې دي:

"**اوله تختۍ:** د جل جامش او ايا نبي ذکر او د دۀ په حقله د جل جامش دويم وار خوب ليدل.

**دوېمه تختۍ:** دا تختۍ ډېره خرابه شوې ده. په دې کښې د جلجامش او ايا نبي د شخړو او صنوبر ځنګل ذکر شوے دے.

**درېمه تختۍ:** دا هم ما ته را ماته ده، په دې کښې د جلجامش او نن سن خبرې اترې نقل شوي دي. د نن سن له خوا ايا نبي د جلجامش محافظ مقررول صرف دومره ذکر پکښې بيان شوے دے.

**څلورمه تختۍ:** د دې تختۍ صرف يو څو سطرونه سلامت پاته دي. په دې باندې د دواړو دوستانو د صنوبر د ځنګل د سفر حال رقم شوے دے.

**پنځمه تختۍ:** په دې کښې د حمبابا سره د ليدلو او د هغۀ د قتل ذکر موجود دے.

**شپږمه تختۍ:** د عشتار او جل جامش شخړه او د افاقي غوئي قتل په هم دغه تختۍ ليک دے.

**اوومه تختۍ:** د ايا نبي ناروغي، د هغۀ خوبونه او د مرينې حال باندې رقم شوے دے.

**اتمه تختۍ:** په دې باندې د ايا نبي د جنازې او تدفين حال ليکل شوے دے.

**نهمه تختۍ:** په دې کښې د جلجامش د ات نا پشتم سره د ليدلو قيصه بيان شوې ده.

**لسمه تختۍ:** په دې کښې د ګل ګامش د يو رڼنابي او ات ناپشم د ملاقات حال ليک دے.

**یوولسمه تختی:** دا تختۍ ښخې سالمه پاته شوې ده. په دې باندې تر درې سوه زیات سطرونه رقم شوي دي په دې کښې د نوح د طوفان ذکر دے.

**دوولسمه تختی:** په دې باندې چې کومه نیمګړې واقعه رقم شوې ده هغه له سومیري ژبې څخه براه راست ترجمه شوې ده".(13)

په جلجامش باندې ذکر شوې تختیانې بلا شبه، د ډېر ارزښت او اهمیت ورې دي. دغه په بېلا بېلو الواحو باندې لیك دغه منظوم رزمیه داستان د نړۍ د هرې ژبې د ادب لپاره تر یوې عظیمې سرمائې کمه اثاثه نه ده. خو دا حقیقت ښخې اوس منل په کار دے چې دغه رزمیه داستان نن د جهاني ادب اولنے لرغونے داستان دے. ځکه نن د جلجامش د داستان زمزمې او انګازې په وروسته نړۍ خورې ورې دي. د دې جهاني منظومې حماسې د دې تفصیلي تنقیدي بحث نه وروسته هم زهٔ په خپل شخصي فکر دا ضروري بولم چې د دې نومورې داستان لنډه ګنډه خاکه د ادب لوستونکیو لپاره دلته نقل کړم. چې د دغه مطالعه ورته نوره هم اسانه شي. د دې داستان خاکه په یو څو تورو کښې داسې وړاندې کېدلے شي.

"د یرك باچا (ګل ګامش) به هر وخت د مرګي د سترې بلا څخه وار خطا او په لړزان وُ. ولې چې هغه د ابدي ژوند پامتدار وُ. هرکله چې به هغهٔ د خلګو لاشونه په اوبو کښې د بهاندو خاشو په څېر ولیدل نو نیم به هم نه پاتېدلے. بلکې سم دستي به مړاوے مړاوے او خزان خزان شو. او په داسې حال کښې به ئې یو نابلده وېروونکے وهم په وجود کښې په غورځنګ شو چې هغه به هم یوه ورځ د مرګ د دغې بې لحاظې بلا شومه وګرځي. ځکه هغه د یوهٔ ابدي سیمې په لور د تللو هڅه کوله. او د صنوبر ځنګل ئې یو مخ پرېکول غوښت. کوم چې د یو ستر او وحشتناك باچا (حمبابا) په نګراني کښې وُ. او دغه درختې یې خپل ښار اروك یا یرك راوړلې. دغه حمبابا نهٔ یوائې د دې ځنګل باچا وُ، بلکې په شخصي لحاظ یوه خطرناکه بلا هم وه چې ورسره د غرهٔ وهل او مخامخ کېدل زښت ګران کار وُ. خو د هغهٔ وفادار ملګرے او خواخوږے خادم ان کدو (ایا نبي) په دې خطرناك مهم باندې د تللو نه مخکښې ګل ګامش ته دا تاکید کوي چې مونږ له په کار دا دے چې اول د ابدي وطن محافظ او ستر باچا (سورج دیوتا) "اُتو" سره په دې لړ صلاح او مشوره وکړلے شي. نو ځکه ګل ګامش هم له دغه دیوتا څخه

مرسته او مدت وغواړي. په دې غوښتنه او خواست هغه د ګل ګامش په لاړ کښې خنډ پیدا کوونکې اووهٔ بلاوې چې ډېرې خطرناکې او منحوسې وي، په خپل خپل ځای ساکتې او جامدې کړي. له دې وروسته دغه قهرمان له خپلو پنځوسو کمربسته ملګرو سره په دې مهم خپل سفر پیئل وکړئ. د اوو (7) لویو لویو غرونو د تېرېدلو پس ګل ګامش نابېره هغه صنوبر ووینې کوم چې د دهٔ د خوښې صنوبر وي. کله چې هغه دغه صنوبر پرې کړي. په هم دغه مهال هواده بلا ناګهانه له خوبه را بېداره شي او په ګل ګامش داسې غنودګي مسلط کړي چې هغه په هغه دم په خوب کښې ډوب او غرق شي. دلته د دې قهرمان په بیا را بېدارولو کښې خورا وخت ولګېږي. خو کله چې هغه را بېدار شي، نو د خپلې مور نن سن دېوي او پلار لوګل باندا په سر باندې قسم وخوري او هغه اووه درختې د صنوبر له بېخه را وباسي کومې چې د هواده و مسکن ته په تلو کښې خنډ وي. دلته هغه اوس هواده ته بېخي مخامخ ولاړ وي. لکه دوهٔ زمریان چې و یوهٔ بل ته مقابل ولاړ وي. ګل ګامش د بلا په سونډه (پوزه) کښې نیخښ ور واچوي، دلته بلا د هغهٔ له قهره د رحم او مهربانۍ خواست کوي. ګل ګامش هغه ایله کړي. خو ان کدو هغه د داسې کولو څخه منع کوي. دلته بلا و ان کدو ته بد او رد ووایي. په دې اثنا کښې ورته ان کدو په غضب شي او یو مخ د بلا نه د هغې سر پرې کړي. له دې وروسته ګل ګامش او ان کدو د بلا دغه غوڅ کړے سر د دېوتا د باچا (ان عل) په خذمت کښې پېښ کړي. دېوتا په ځای د دې چې خوشحاله شي. و دوئ دواړو ته په خشم او غضب شي. بد روح ورته ووایي، ښېراوې ورته وکړي او دغه ښېرا لا هم ورته وکړي چې دوئ دواړه دې مدام په تپېدلو او سرو غرمو کښې سر وي. خو اُتودېوتا هغو ته اووه مقدسې پېرزوئېنې عطا کړي د کومو په سوب چې دوئ د ځنګلي وحشیانو، بلاګانو او ځناورو څخه بچ پاته کېدلے شو". (14)

د ګل ګامش د دې نوموړي او خواږهٔ داستان د تلخیص وروسته مونږ په ډاډهٔ زړهٔ دا وئیلے شو چې په رښتیا هم په دغه رزمیه داستان کښې هغه خوبیانې او اوصاف موجود دي، کوم چې په یوهٔ ښه او معیاري داستان کښې په ګوته کېدے شي. زهٔ زیات خوښ په دې یم چې د دې لرغونې حماسې په رابرسېره کېدلو یقیناً زمونږ په ادبي سرمایه کښې بېخي د ویاړ او افتخار وړ اضافه شوې ده، خو زیات حېران په دې یم چې لا پورې به زمونږ څومره ادبي

اثار او علمي سرمائې د دغو لرغونو تهذيبونو په سينو کښې بې درکه او ورکې پاته وې؟. د دې لټون څومره اهم دے؟ په دې حقيقت باندې د تحقيق په ميدان کښې لګيا هغه محقيقين، عالمان او پوهان په ښه شان خبر دي چې د داسې کلاسيکي، علمي او فرهنګي اثارو د تلاش او لټون لپاره يې خپل شيرين عمرونه وقف کړي دي. ځکه په يوه ژبه کښې که يو ښۀ محقق هم پيدا شي نو د هغې ژبې د ادب د غني کېدلو بلا امکانات را پيدا شي. ځکه د هرې ژبې ادب د يو هنري رالنسن غوښتنه کوي. زما په خيال د شتمن او غني ادب په اړه دا د نن تر ټولو اهم سوال دے.

❁❁❁

# حوالي


(1) داستان اور ناول، تنقيدي مطالعه، ڈاکٽر سليم اختر، ص 24، سن اشاعت و مطبوعه اداره ندارد.

(2) داستان کی داستان، آرزو چودهري، ص 14 بار اول 1988ء، عظيم اکيڈمي اردو بازار لاهور.

(3) جلجامش کی داستان، يا دنيا کی سب سي قديم ترين داستان، مؤلفه انب حنيف، اشاعت بار اول، نقوش پريس کبير سٽريٽ اردو بازار لاهور، سن 1961ء ص 10، 11 12.

(4) ايضاً ص 13.

(5) Encyclopedia of fantasy eclited by John clute and John grant (p. 410) first published in great Britain by orbit, 1997. publisher; little brown and company (u. k( London.

(6) زمين، انسان اور تهذيب، سيف الدين بوهره، ص 270- 267.

(7) روح عصر، علي عباس جلالپوري،اشاعت بار سوئم، ناشر روهتاس بك، سن 1989، ص 25، 26.

(8) سرزمين اور باشندی، تصنيف بهيجه لوجائي، ترجمه محمد هادي حسين، شيخ غلام علي اينڈ سنز پبلشر لاهور، پشاور، حيدرآباد، کراچي، سن اشاعت ندارد، ص 27.

(9) جلجامش کی داستان، يا دنيا کی سب سي قديم ترين داستان، مؤلفه انب حنيف، اشاعت بار اول، نقوش پريس کبير سٽريٽ اردو بازار لاهور، سن 1961ء ص 46.

(10) ايضاً ص 44.

(11) ماهنامه سپوتنك، لاهور. علمي داستان اور داستان، تحرير آرزو چوهدري، ص 54.

(12) ماضي کي مزار، سبط حسن، مکتبه دانيال وکٽوريه روڈ کراچي نمبر3، نومبر 1982، ص 300.

(13) جلجامش کی داستان، یا دنیا کی سب سې قدیم ترین داستان، مؤلفه ابن حنیف، اشاعت بار اول، نقوش پریس کبیر سټریټ اردو بازار لاهور، سن 1961ء ص 15، 16، 17.

(14) داستان کی داستان، آرزو چوهدري، بار اول، عظیم اکیډمي اردو بازار لاهور. ص 28، 29.